بسم الله الرحمن الرحیم

**القواعد من النساء**

**(ژباړه)**

**پوښتنه**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**

زموږ قدرمن شیخ صاحب، الله تعالی مو برکت په نصیب کړه، علم مو زیات او بدني عافیت مو نصیب شه! غواړم د نور سورت د تفسیر په هکله چې الله سبحانه وتعالی فرمایلي: **أعوذ بالله من الشیطان الرجیم:**

**﴿وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاء اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ...﴾**

***ژباړه:*** *هغه ښځې چې عمر پرې تېر وي او د نکاح هیله نه وي ورسره، نو که پړونی کېږدي هم څه وبال ورباندې نشته. په دې شرط چې خپل زینت ونه ښیي، خو که چېرې پړونی واغوندي ورته ښه ده. الله تعالی تر هر څه ښه اوري او ښه پوهېږي.*

دغه ډول ښځې څوک دي؟ ځانګړي احکام یې کوم دي؟ که مطلب له "لا یرجون نکاحا" څخه د عمر تېرېدل وي، نو عمري کچه یې څومره ده؟ او که دغه حالت د بیولوژیکي بدني بدلون، چې ښځو ته مخکې کېږي، د دغه ایت شامل وي، نو دغه حالت نا امیدي ده او بیا په ځانګړي سن پورې اړه نه لري. الله دې تاسو ته غوره بدله او نصرت نصیب کړي!

**ځواب**

**وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!**

ستاسو د پوښتنې په اړه له دغه ایت شریف څخه **﴿وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ﴾** لاندې ټکو ته اشاره کېږي:

۱- لکه څرنګه چې پوهېږئ د تفسیر طریقه دا ده، چې لومړی د شرعي حقیقت، چې په نص کې راغلی استناد پرې کوو، که مو پیدا کړ هغه رااخلو او که مو پیدا نه کړ په عربي لغت استناد کوو؛ ځکه قران په عربي ژبه نازل شوی. لکه څرنګه چې الله متعال فرمایلي دي:

﴿**وَإِنَّهُ لَتَنْزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ * نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ * عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ * بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ**﴾ [شعراء: 92-95] ﴿**إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ**﴾ [يوسف: 2]

لکه څرنګه چې پوهېږو د تفسير په اړه کوم شرعي نص نه دی راغلی؛ نو د (قواعد) په تفسير کې په لغت استناد کوو. د قواعدو لغت د ښځو لپاره استعمالېږي چې مفرد يې قاعد ده؛ د بېلګې په توګه وايو إمرأة قاعد (متقاعده ښځه) نساء قواعد (متقاعده ښځه) او دلته د متقاعدې معنی د عمر تېرېدو په مفهوم دی او که إمرأة جالسة مو مطلب وي، د (قاعد) پر ځای قاعدة ذکر کېږي؛ نو "**القواعد من النساء"** هغو ښځو ته ويل کېږي، چې د عمر د ډېروالي په دليل له واده پاتې وي.

يا به بل عبارت قواعد، ناتوانه او خوارځواکه ښځې دي، چې له حيض، زېږونې او واده پاتې وي، چې نه هغوی ته څوک علاقه ښيي او نه دوی چاته علاقه لري. هغوی ځوانې نه دي چې واده وکړي. له قواعد څخه موخه يوازې "يأسن" له حيض او زېږونې نا اميدې ښځې نه دي، لکه څرنګه چې وايي؛ د ياس( نااميدی) عمر وروسته له ځلوېښت او پنځوسو کلونو پيليږي؛ خو دوی په دغو عمرونو کې مېړونو ته علاقه لري او مېړونه هم هغوی ته علاقه لري. په دغه ايت کې﴿**وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ**﴾ زړې ښځې دي چې له حيض او زېږونې څخه لرې وي او د واده لپاره مينه او شوق و نه لري او نور هم هغوی ته علاقه و نه ښيي او قواعد ورته ويل کېږي.

**په لغت او تفسير کې د القواعد معنا توضيح:**

**لومړی: (قواعد) کله چې په ژبه کې د ښځو لپاره استعمال شي.**

په عربي ژبه کې راغلي:

«**وقَعَدَتِ المرأَةُ عَنِ الْحَيْضِ والولد تَقْعُدُ قُعوداً، وَهِيَ قَاعِدٌ: انْقَطَعَ عَنْهَا، وَالْجَمْعُ قَوَاعِدُ**» ښځه له حيض او بچي راوړلو څخه پاتې شوه او دغه کليمه تل (قاعد) په معنی راځي او جمع يې هم قواعد دي. لکه څرنګه چې په قران کريم کې راغلي: (**وَالْقَواعِدُ مِنَ النِّساء**) زجاج د دغه ايت په تفسير کې ويلي: هغوی له مېړونو څخه پاتې دي. ابن سکيت ويلي: ښځه چې له حيض لرې وي. ابوهيثم ويلي دي: قواعد د مونث له صفاتو څخه دی، او نشو ويلی، چې رجال قواعد، متقاعد نارينه. قواعد جمع قاعد ده او هغو ښځو ته ويل کېږي، چې د عمر د لوړ والي له امله ناستې وي. په عربي ژبه کې کله چې وغواړو ښځه ناسته ذکر کړو قَاعِدَةٌ استعمالوو، چې جمع يې قواعد دي.

په تاج العروس ۴۹/۹ پاڼو کې راغلي دي:

د مجاز له نظره: «القاعد من النساء هغه ښځه چې له اولاد، حیض او مېږه څخه ناامیده وي او جمع یې قواعد دی.» ابن اثیر ویلي دي: «قواعد جمع قاعد دی، چې لوړ عمر لرونکې ښځې ته وایي او قاعد پرته له "ها" په کور ناستو ښځو ته وایي خو قاعِدةٌ یې فاعلي حالت دی چې عرب ورته **قَدْ قَعَدَتْ قُعُوداً** وایي او د فاعلي حالت جمع یې قواعد دي.»

**دویم: په تفسیر کې د قواعد معنا:**

**په قرطبي تفسیر کې راغلي: (النور: ٦٠ )**

د الله تعالی قول دی چې: (**وَالْقَواعِدُ مِنَ النِّساءِ**) الْقَوَاعِدُ او مفرد حالت قَاعِدٌ دی، پرته له (ها) چې نښتون یې په لوړ سن دلالت کوي او هغه ناتوانه ښځې ته ویل کېږي، چې له حیض او زېږونې ناامیده وي. د ډېری علماوو نظر داسې دی.

**په نسفي تفسیر کې راغلي:**

«قواعد جمع قاعد او له هغو صفاتو دي، چې په ښځو پورې اړوند وي؛ لکه: حائضه چې د زېږونې او حیض څخه د لوړ عمر لرلو په دلیل پاتې وي او د هغوی حالت د آیت شریف مطابق دا دی چې واده ته علاقه ونه لري.»

**درېیم:** لنډه دا چې قواعد هغو زړو ښځو ته ویل کېږي، چې د لوړ عمر په دلیل له حیض او زېږونې پاتې وې او نه امیندواره کېږي او واده ته هم تمه ونه لري؛ نه هغوی د مېړه کولو ته علاقه لري او نه دوی ته څوک علاقه ښیي؛ یعنې له ټولو کارونو پاتې وي. هیله ده چې موضوع مې روښانه کړې وي.

**ستاسو ورور عطاء بن خلیل ابوالرشته**

**ژباړن: الهام پردېس**